د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت
آمریت عمومی نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی

د افغانستان بانک

شماره: ۱۲۸۶۲ ۱۲۲۴۳
تاریخ: ۱۴/ ۱۱/ ۱۴۴۵

بسم الله الرحمن الرحیم

**صرافانو او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته،

**ماهیت:** متحدالمال

**موضوع:** د بې جوازه صرافانو او پولي خدمتونو په اړه

ټول بې جوازه (غیر قانوني) صرافانو او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو ته خبر ورکول کېږي چې د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره د لازمو کړنو په موخه د افغانستان بانک ته مراجعه وکړي.

(۱) د دې متحدالمال د صدور نېټې څخه وروسته تر پنځو ورځو پورې د فعالیت جواز د ترلاسه کولو لپاره خپل غوښتنلیک وړاندې کړي.

(۲) هغه صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي چې د پنځو ورځو په ترځ کې دافغانستان بانک ته مراجعه ونکړي، دکان یا دفتر يې د اړونده ادارو سره په همغږۍ د ګډې کمېټې لخوا مهر او قفل کېږي.

(۳) د دکانونو د بندولو څخه وروسته، یاد صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي اړ دي چې د دکان د مالک سره په همغږۍ د افغانستان بانک ته مراجعه وکړي، ترڅو دکان تخلیه او مالک ته يې وسپاري.

(۴) لاسي پلورونکي صرافان اړ دي چې د افغانستان بانک د صرافانو او پولي خدمتونو قانون پر اساس شرکتي جواز لرونکو صرافیو ته د پنځو ورځو په جریان کې د لاندې مواردو د تطبیق په موخه مراجعه وکړي.

- د جواز لرونکي صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت لخوا د فعالیت کارت ترلاسه کول؛
- بانکي حساب جوړول؛
- د مشخصې اندازې څخه زیات د تبادلې کار نه کول؛
- د حوالې فعالیت نه تر سره کول.

**یادونه:**

- لاسي پلورونکي نه شي کولای چې په اسعاري مارکیټونو کې فعالیت وکړي.
- غرفه لرونکي صرافان اړ دي چې د شرکتي صرافیو او پولي خدمتونو شرایطو یا هم د لاسي پلورونکو شرایطو مطابق فعالیت تنظیم کړي.

د صرافانو او پولي خدمتونو ټولنې او د مارکیټونو مسئولین اړ دي چې پورته موضوع په خپل وار ټولو بې جوازه صرافانو او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو سره شریک او په اړونده مارکیټونو کې د بې جوازه صرافانو او پولي خدمتونو د پېژندنې لازم معلومات دافغانستان بانک سره شریک کړي.

په درنښت

هدایت الله بدري
د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس

**کاپي:**
د کورنیو چارو د قدر وړ وزارت ته؛ د استخباراتو د قدر وړ عمومي ریاست ته؛ د ښاروالیو د قدر وړ ریاستونو ته؛ او د صرافیو او پولي خدمتونو ټولنو ته.

- د دې يادداښت شرايط دي په ټولو (پاتې سهميه او اوسنی زياته شوې سهمې) جوازونو په ورکولو سره، تطبيق شي.

**د جواز شرايط:**

لاندې شرايط يوازې د نوو جوازونو (مرکزي او څانګې) په ورکولو سره د نورو شرايطو تر څنګ، د جواز د چاپ څخه مخکې تطبيق شي. د يادولو وړ ده چې لاندې شرايط په مخکينيو صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو شرکتونو باندې د جواز د نوي کولو (تمديد) په وخت کې هم پلي کيږي.

1) **پانګه:** د کابل په ولايت کې ۱۰۰ ميليونه افغانۍ، پاتې زونونو په مراکزو کې ۸۰ ميليونه افغانۍ او په نورو ولايتونو کې ۵۰ ميليونه افغانۍ نغدي پانګه ولري.

2) **تضمين:**

1 - د زونونو په مراکزو (کابل، هرات، کندهار، بلخ، کندز، ننګرهار، پکتيا) کې لس ميليونه افغانۍ او په نورو ولايتونو کې دې پنځه ميليونه افغانۍ نغدي تضمين او د يو معتبر جواز لرونکي له لورې دې د شرکت ضمانت هم وکړل شي. که چيرې د شرکت ونډه وال و نه توانيږي چې معتبر تضمين وړاندې کړي نو په دې صورت کې د شرکتي جواز غوښتونکي څخه د زونونو په مراکزو کې شل ميليونه افغانۍ او په نورو ولاياتو کې لس ميليونه افغانۍ نغدي تضمين اخيستل کيږي. او

2 - د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د هر يوې څانګې د پرانېستلو لپاره لاندې شرايط د تطبيق وړ دي:

- په کابل، بلخ، کندز، کندهار، ننګرهار، هرات، غزنی، هلمند، نيمروز، او خوست ولاياتو کې د هرې څانګې د پرانېستلو لپاره دوه ميليونه افغانۍ تضمين د افغانستان بانک ته ورکړل شي.
- په کابل، بلخ، کندز، کندهار، ننګرهار، هرات، غزنی، هلمند، نيمروز، او خوست کې د هرې څانګې لپاره لس ميليونه افغانۍ او په نورو ولاياتو کې د هرې څانګې د پرانيستلو لپاره پنځه ميليونه افغانۍ پانګه اضافه کړې او په اړه يې لازم اسناد د افغانستان بانک ته وړاندې کړي دي.

3 - **د صرافۍ او پولي خدمتونو سيستم:** د جواز غوښتونکي اړ دي چې د جواز د ترلاسه کولو مخکې د صرافۍ او پولي خدمتونو د معاملو او معلوماتو د ثبتولو په موخه، تائيد شوی سيستم ولري.

4 - **مناسب کاری دفتر:** د جواز غوښتونکي اړ دي چې د صرافۍ او پولي خدمتونو د فعاليت لپاره مشخص او د فعاليت په اندازه مناسب ځاي ولري.

هر يو د جواز غوښتونکی اړ دي چې د جواز د ترلاسه کولو په موخه پورته ذکر شوي شرايط او نور اړونده شرايط بشپړ او بيا وروسته د صرافۍ او پولي خدمتونو د فعاليت جواز ورکړل شي.

**4. لاسي پلورونکي صرافان:**

لاسي پلورونکي صرافان اړ دي چې د صرافانو او پولي خدمتونو قانون پربنسټ د شرکتي صرافۍ او پولي خدمتونو څخه د کارت په ترلاسه کولو سره د پنځمې مادې په پام کې نيولو سره د لاندې شرايطو مطابق فعاليت وکړي:

- د جواز لرونکي صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت لخوا د فعاليت کارت ترلاسه کول،
- بانکي حساب جوړول،
- د ورځې تر دوه سوه زره افغانۍ او يا د هغه معادل څخه زياته تبادله نه شي کولاي،
- د حوالې کار مطلق نه شي کولاي.
- لاسي پلورونکي نه شي کولاي چې په اسعاري مارکيټونو کې فعاليت وکړي.

يادونه: غرفه لرونکي صرافان اړ دې چې د شرکتي صرافيو او پولي خدمتونو شرايط يا هم د لاسي پلورونکو شرايطو مطابق خپل فعاليت تنظيم کړي.